تأسیس: ۱۳۹۴ل ل

# شتمني SHTAMANI
اوونیزه

زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی

د افغانستان اسلامي امارت

د مالیې وزارت

جمادی الثانی ١٦ -١٤٤٧ل س | د لیندی ١٦ -١٤٠٤ل ل | د ډیسمبر ۷-۲۰۲۵ز | پنځم کال | ۱۵٦ ګڼه | ٤ مخیزه | ۱


**د صدقې کولو اسانه لاره**

د حدیث شریف ژباړه:

رسول الله ﷺ وفرمایل: کله، چې یو مسلمان پر خپل اهل (ښځې او اولادونو) د صدقې په نیت د روزي او معیشت مصرف کوي؛ نو دا مصرف به الله تعالی په صدقه کې ورحساب کړي.

یادونه: پر کورنۍ باندې مصرف کول؛ هغه مهال صدقه ګڼل کیږي، چې د صدقې نیت ولرئ.

[سنن کبری للبیهقی (١٥٦٩٥) او متفق علیه، بخاري او مسلم.]

(د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، له لوري)

## سرمقاله

### له اُزبکستان سره د افغان سوداګرۍ پراختیا

لکه څنګه، چې افغانستان تر ډېره وارداتي او مصرفي هیواد دئ او د اړتیا وړ توکو د تر لاسه کولو له پاره له خپلو ګاونډیو هیوادونو سره سوداګریزې اړیکې لري، چې د دغو وارداتي او صادراتي توکو زیاته برخه ئې له پاکستان هیواد سره وه، دغه ګاونډی هیواد، چې همېشه د سوداګریزو لارو څخه د سیاسي فشار د آلې په توګه کار اخلي او نړیوال سوداګریز اصول په پام کې نه نیسي، څنګه چې ئې ګټه وي هماغسې کوي او هر کال د افغاني مېوو د رسېدو په وخت کې زموږ بزګران او سوداګر د لارې د بندېدو له کبله لوی زیانونهویني؛ نو له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د پرېکړې پر بنسټ له نوموړي ګاونډي هیواد سره سوداګري ځنډول سوې ده او پر ځای ئې نورو بدیلو لارو او هیوادونو ته پاملرنه زیاته کړې ده، چې په دې وروستیو کې روسیې، چین، تاجکستان اُزبکستان او نورو هیوادونو ته د افغاني توکو او مېوو لېږد او د نفتي توکو سوداګري د پراخېدو په حال کې ده. له دغو هیوادونو سره یو هم د افغانستان او اُزبکستان د سوداګریزو اړیکو پراختیا ده، چې د اُزبکستان د سوداګرۍ او صنایع خوني له خوا یو (١٠٠) کسیز پلاوی د نومبر (١٧ــ ٢٣) نېټې پورې افغانستان ته لېږل سوی وو، چې موخه ئې د افغان ـ اُزبک سوداګرۍ ته وده ور کول وه. همدارنګه د اُزبکستان د سوداګرۍ او صنایعو خوني او د افغانستان د سوداګرۍ او پانګوني خوني د همکارۍ یو داسې تفاهم لاسلیک کړ، چې په دواړو هیوادونو کې د "سوداګریزو خونو" د جوړولو او د دې خونو د استازو دفترونو د پرانیستلو له پاره زمینه برابروي. د دې ترڅنګ له اُزبکستان سره د افغانستان د ډبرو سکرو تړون دئ، چې اُزبکستان به د ډبرو سکرو په بدل کې افغانستان ته سیمنټ ورکوي. له افغانستان سره د اُزبکستان سوداګریزې معاملې د (جنوري ــ جولای/٢٠٢٥م) په جریان کې (٨٦٢،٢) میلیونو ډالرو ته رسېدلې دي، چې د پروسږکال (٢٠٢۴م) د ورته مودې په پرتله د (٥٧١) میلیونو ډالرو په ارزښت (٥١ سلنه) زیاتوالی ښیي او د وړَم کال (٢٠٢٣م) کال په پرتله تقریباً دوه برابره یا (۴٧٠) میلیونه ډالره کیږي.

**درنښت**

**اداره**

# د اسلام کلا په سرحدي ګمرک کې نږدې ۱۰۰ ټنه قاچاقي او بې کیفیته تېل له منځه یووړل سول



د هرات ولایت د اسلام کلا په سرحدي ګمرک کې شاوخوا (١٠٠) ټنه قاچاقي او بې کیفیته پیټرول او ډیزل تېل ناکاره وښوودل سول او د محکمې د حکم له مخې د اړوندو با صلاحیته ادارو د استازو په حضور کې له منځه یووړل سول. دغه تېل، چې په بېلابېلو وختونو کې د قاچاق کوونکو له لوري په سوداګریزو موټرونو کې په پټه افغانستان ته راوړل کېدل، د ګمرکي مسئولینو له لوري نیول سوي او له لابراتواري معاینې او تحلیل وروسته ئې د له منځه وړلو پرېکړه وسوه. د یادونې وړ ده، چې د هیواد په ګمرکونو کې ټول سوداګریز توکي په دقیق ډول کتل کیږي او هیڅ چا ته اجازه نه ور کول کیږي، چې بې کیفیته او ممنوعه توکي وارد او یا هم صادر کړي.

# د عقرب په میاشت کې د هیواد له ګمرکونو څخه (١٦) ټانکره بې کیفیته نفتي توکي مسترد سوي دي

د مالیې وزارت د نفتي توکو د کیفیت او څارنې ریاست، چې د ټاکل سویو معیارونو له مخې هیواد ته د را واردېدونکو نفتي توکو کیفیت معلوموي، د روان (١۴٠۴ هـ.ل) کال د عقرب په میاشت کې ئې د هیواد له یو شمېر ګمرکونو څخه (١٦) ټانکره واردېدونکي بې کیفیته نفتي توکي، چې ټولیز وزن ئې (۴٨٠) ټنه کېده، بېرته مسترد کړي دي. دغه نفتي توکي (٣) ټانکره ډېزل، (۴) ټانکره اوبلن ګاز او (١) ټانکر روغنیات د نیمروز له بندر څخه، (۴) ټانکره ډېزل له حیرتان بندر او (۴) ټانکره پیټرول له شېرخان بندر څخه مسترد کړي دي. د یادونې وړ ده، چې د مالیې وزارت له لوري هیواد ته د را واردېدونکو نفتي توکو د کیفیت معلومولو په موخه



په اړوندو ګمرکونو کې مسلکي او تخنیکي ټیمونه ټاکل سوي، معیاري لابراتوارونه جوړ او د تشخیص له پرمختللو دستګاوو څخه کار اخیستل کیږي؛ څو هیواد ته د لوړ کیفیت او معیاري نفتي توکو را واردولو ته زمینه برابره او د بې کیفته نفتي توکو را واردولو په کلکه مخه ونیسي.

# د څار هیئت د اقتصادي وزارتونو او ادارو پر کړنو دوهمه ناسته وکړه

د افغانستان اسلامي امارت د اقتصادي کمېسیون د پرېکړې پر بنسټ او د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) په منظورۍ د اقتصادي وزارتونو او ادارو پر کړنو د څار هیئت ټاکل سوی دئ، چې د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ ئې د یاد هیئت دوهمه ناسته د اقتصادي وزارتونو او ادارو د با صلاحیته استازو په ګډون د دغه معینیت د غونډو په تالار کې وسوه. په پیل کې د تخنیکي هیئت د کړنو هغه راپور ګډونوالو ته وړاندې سو، چې د څار هیئت په لومړنۍ ناسته کې ئې مشري د ګمرکونو او عوایدو معینیت ستر سلاکار محمد موسی عمر کوله او راپور هم د ګډونوالو له لوري مثبت وارزول سو. ور پسې په اړوندو ادارو کې هیوادوالو ته د لا



ډېرو اسانتیاوو پر رامنځته کولو، د کار ځنډوني د مخنیوي پر لارو چارو، له ګډ تخنیکي هیئت سره پر همکارۍ، مراجعینو ته د اسانتیاوو رامنځته کولو په موخه په ټولو اړوندو وزارتونو او ادارو کې د معلوماتو ځانګې فعالولو او اړینو لاښودونو د چاپ او نصبولو او یو شمېر نورو موضوعاتو په تړاو بحث او لازمي پرېکړې وسوې.



د کابل ولایت د تېلو او ګازو له عمده پلورونکو سره مشورتي ناسته وسوه

م ۲



د ملي بودیجې عمومي ریاست تخنیکي ټیم د هیواد (١٦) ولایتونو ته سفر وکړ

م ۲



د مالیې وزارت د شکایتونو اورېدو آمریت (١٠) شکایتونو ته رسېدنه کړې ده

م ۲



برنامه آموزشی مدیریت کاربردی برای کارمندان معینیت عواید و گمرکات دایر گردید

م ۲



پیشرفت و تحول اقتصادی در طول حاکمیت امارت اسلامی افغانستان

م ۳




اُزبکستان او افغانستان د فیلانو په بیه غټ سوداګریز تړونونه لاسلیک کړل

م ٤

SHTAMANI
اوونیزه

# د کابل ولایت د تېلو او ګازو له عمده پلورونکو سره مشورتي ناسته وسوه

د مالیې وزارت د عوایدو لوی رئیس الحاج مولوي سفر محمد سحر په مشرۍ، د عوایدو او ګمرکونو معینیت د غونډو په تالار کې د کابل ولایت د تېلو او ګازو له عمده پلورونکو سره مشورتي ناسته وسوه. په دې ناسته کې د عوایدو د حقوقي خدمتونو او پالیسۍ رئیس، د حقوقي اسنادو د چمتو کولو آمر، د عوایدو لوی ریاست مشاورینو او د کابل ولایت د تېلو او ګازو عمده پلورونکو ګډون درلود.



په دغه ناسته کې د مالیه ورکوونکو پر مکلفیتونو، د اسلامي امارت له بیا وکمنېدو څخه را وروسته د تېلو او ګازو په مالیاتو کې د رامنځته سويو تخفیفونو او سهولتونو، سته ستونزو او پر دوه اړخیزو ګډو همکاریو خبري وسوې. په ناسته کې د تېلو او ګازو د ثابتې مالیې اړوند د کابل ولایت د تېلو او ګازو د عمده پلورونکو غوښتني او مالیاتي ستونزي واورېدل سوې او ډاډ ورکول سو، چې د مالیاتو په برخه کې به لازمي اسانتیاوي او سهولتونه رامنځته سي؛ ترڅو یاد عمده پلورونکي خپل مالیاتي مکلفیتونه په پوره امانتدارۍ سره ادا کړي.

# د ملي بودیجې عمومي ریاست تخنیکي ټیم د هیواد (١٦) ولایتونو ته سفر وکړ

د مالیې وزارت د ملي بودیجې عمومي ریاست تخنیکي ټیم د هیواد (١٦) ولایتونو (بامیان، نورستان، کونړ، بدخشان، تخار، کندوز، جوزجان، سرپل، فاریاب، بلخ، نیمروز، فراه، هرات، سمنگان، بغلان، او پروان) ته د خپلو رسمي سفرونو په لړ کې د دغو ولایتونو د مستوفیت کارکوونکو، د دویمي واحدونو او ښاروالیو مالي مسئولینو ته (د ملي بودیجې د ترتیب او اجراء) تر عنوان لاندي روزنیز ورکشاپونه ترسره کړل. د دغه روزنیزو ورکشاپونو په ترڅ کې، چې په هر ولایت کې په جلا جلا ډول ترسره سول، ګډونوالو ته د عامه مالي چارو، اداري او د بودیجې




د ارزښت، په ولایتونو کې د ملي بودیجې غوره ترتیب، د بودیجوي کارېدونکو اصطلاحاتو د پېژندني، د عمومي بودیجې د ترتیب، ولایتي بودیجې جوړوني، د ښاروالیو د بودیجې، د ملي بودیجې د اجراء او یو شمېر نورو اړوندو موضوعاتو په تړاو هر اړخیز معلومات وړاندي سول. د یادو ورکشاپونو په پای کې ګډونوالو هم په خپل وار سره خپل نظریات، وړاندیزونه او ستونزي شریکي کړې، چې د اړوندو مسئولینو له لوري ورته د ژر رسېدني او پوره همکارۍ ډاډ ورکړل سو. هېره دي نه وي، چې د مالیې وزارت تل په دې هڅه کې دئ، چې د ملي بودیجې د غوره ترتیب او پلي کولو په موخه د عامه پوهاوي او ظرفیت لوړوني ورته روزنیز پروګرامونه لا وغځوي.

# برنامه آموزشی مدیریت کاربردی برای کارمندان معینیت عواید و گمرکات دایر گردید

ریاست امور کارکنان وزارت مالیه برنامه آموزشی تحت عنوان "مدیریت کاربردی" را برای (۴۰) تن کارمند معینیت عواید و گمرکات دایر نمود. در مراسمی که به همین مناسبت در تالار کنفرانس های معینیت عواید و گمرکات راه اندازی گردیده بود، الحاج صفر محمد سحر، رئیس عمومی عواید، مفتی عبدالوهاب عابد، آمر آموزش و ارتقای ظرفیت ریاست امور کارکنان، شیخ الحدیث محمد مبین امینی امام و مدرس ریاست دعوت و ارشاد وشماری از مسئولین دیگر اشتراک داشتند. رئیس عمومی عواید در سخنان افتتاحیه این برنامه گفت، خدمت رسانی در این نظام بر پایه اطاعت، برقراری عدالت، خدمت به مردم و پذیرش مسئولیت ها استوار است. وقتی این مسئولیت ها به گونه درست آن اجرا می گردد که نسبت به آن آگاهی داشته و مهارت های لازم را کسب کنیم. این برنامه نیز برای انکشاف مهارت های لازم و ارائه خدمات بهتر به مردم راه اندازی گردیده است. امید که از آن استفاده اعظمی نمایید و مصدر خدمت هرچه بهتر به مردم شوید.




آمر آموزش و ارتقای ظرفیت گفت، این برنامه ها بر اساس نیازهای کارمندان در نظر گرفته شده و مواد لازم درسی در دسترس شما قرار خواهد گرفت تا دانش مسلکی خویش را ارتقا و خدمت رسانی کنید. وی از اشتراک کنندگان خواست تا با جدیت برنامه را تعقیب و مهارت های خویش را انکشاف دهند. امام و مدرس ریاست دعوت و ارشاد گفت، سیمینارها و برنامه های آموزشی که برای شما تدارک دیده میشود بخاطر پیدا کردن شیوه درست حفاظت از این نظام اسلامی است، همانطوریکه برای استقرار و حاکمیت این نظام اسلامی قربانی داده اید، با کسب آگاهی و با قلم از این نظام حفاظت کنید. با مردم رفتار حسنه داشته و نیت خود را اصلاح کنید. گفتنی است که این برنامه آموزشی به مدت (۱۰) روز ادامه داشته و در آن پلانگذاری، گزارش نویسی، مکتوب نویسی، استعلام و پیشنهاد نویسی، مفاهمه و ارتباطات، مدیریت منابع انسانی، مدیریت استراتژیک و دیگر موضوعات مهم و مرتبط به اشتراک کنندگان تشریح و تدریس می گردد.

# د مالیې وزارت د شکایتونو اورېدو آمریت (١٠) شکایتونو ته رسېدنه کړې ده



د مالیې وزارت د کورنۍ پلټنې لوی ریاست د شکایتونو اورېدو آمریت د دغه وزارت اړوند ټولو شکایتونو؛ لکه: فساد، کم کارۍ، کار ځنډوني او د یو شمېر مسئولینو ناسم چلند ته د رسېدني مسئولیت په غاړه لري او ترلاسه سويو شکایتونو ته له ځنډه پرته رسېدنه کوي. دغه آمریت د روان (١٤٠٤) کال لړم (عقرب) میاشتي له پیل څخه د دغي میاشتي تر پایه پوري په ټوله کې (١٠) شکایتونه ترلاسه کړي او اورېدلي دي. له دې جملې (٢) شکایتونه د وټس اپ له لاري، (٦) شکایتونه په حضوري بڼه او (٢) شکایتونه د ټلیفون له لاري له دې آمریت سره شریک سوي دي، چې یاد شکایتونه د املاکو، تدارکاتو، مالي او منفکې په برخو کې ول، چې د دغه آمریت له لوري پر وخت رسېدنه ور ته سوې ده. د یادوني وړ ده، چې ټول هیوادوال کولای سي، چې د مالیې وزارت د بېلابېلو څانګو په ځانګړې توګه د عوایدي سرچینو او د ګومارني په برخه کې د اصلاحاتو په تړاو خپل شکایتونه، وړاندیزونه او نظرونه د برېښنالیک، وټس اپ، ټلیفون، په حضوري بڼه او د شکایتونو د صندوق له لاري له دغه آمریت سره شریک کړي، چې د شکایتونو د اورېدو آمریت به له طبقه بندۍ وروسته دغو شکایتونو ته په شفاف او ټاکلي وخت رسېدنه وکړي.

د اړیکو شمېرې: ٠٢٠٢٩٢٤٢٣٣ /٠٢٠٢٩٢٤١٩٠
وټس اپ نمبر: ٠٧٤٥٧٦٥٧٥٦
برېښنالیک: Officialcomplaints@mof.gov.af

# د مستوفیتونو او ګمرکونو کارکوونکو ته روزنیز پروګرامونه پیل سول

د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ له تدریسي پلان سره سم د مستوفیتونو، ګمرکونو، مالیاتي حوزو، قطعیې، راپور ورکولو او د مالونو له ترخیص وروسته د پلټنې (١٢٥) تنو کارکوونکو ته درې جلا روزنیز پروګرامونو پیل سول. په همدې تړاو جوړه سوې غونډه کې د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی رئیس مولوي محمد حامد احمد، د ولایتي عوایدو د همغږۍ رئیس مفتي عبدالغفار سلیم، د ګمرکونو د قانون د تنفیذ رئیس حافظ حضرت علي او یو شمېر نورو مسئولینو ګډون کړی وو. په پیل کې د ګمرکونو لوی رئیس مولوي محمد حامد احمد هر اړخیزه وینا وکړه او دغه ډول پروګرامونه ئې د کارکوونکو د ظرفیت لوړوني په برخه کې خورا مهم یاد کړل. همدارنګه نوموړي له نویو ګومارل سویو کارکوونکو څخه وغوښتل، چې خپل وخت ته ارزښت ور کړي او له ورته پروګرامونو څخه پوره ګټه واخلي. د غونډې نورو ویناوالو هم دا ډول روزنیز پروګرامونو د چارو د لا ښه والي او پرمختګ په برخه کې مهم وبلل او د کارکوونکو د کاري ظرفیت پر لوړولو ئې ټینګار وکړ. د یادوني وړ ده، چې د دغو روزنیزو پروګرامونو په لړ کې به د راپورونو ترتیبول، قطعیه، د مالیاتو قوانین، سیګتاس سیستم او د مالونو له ترخیص وروسته د نظارت اړوند موضوعات د مجربو ښوونکو له لوري په عملي او نظري ډول تدریس سي.



# په تېرو دوو اوونیو کې د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کې په زیاته اندازه قاچاقي توکي نیول سوي دي

د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست د ګرځنده څارني کارکوونکو په تېرو دوو اوونیو کې د هرات، کندهار، نیمروز، فراه، کندوز او هلمند ولایتونو په بېلابېلو سیمو کې په زیاته اندازه قاچاقي توکي نیولي دي، چې قاچاق کوونکو غوښتل له ګمرکي محصول پرته ئې په قاچاقي ډول افغانستان ته راوړي. په نیول سويو توکو کې (٥٧٠٠) کیلو ګرامه کېلې، (٢١٧٥٠) کیلو ګرامه لېمو، (١١٠٧٠) کیلو ګرامه انساني طبي درمل، (١٣٨٥٩) کیلو ګرامه چاکلېټ، (٧٠٠) کیلو ګرامه رخت باب، (٥٨٥٠) کیلو ګرامه چرګوړي (چیچان)، (١٥٧٣٣) کیلو ګرامه ګوړه، (٢٠٣٤) کیلو ګرامه کریم، (٢٦٣٢) کیلو ګرامه اچار، (٧٥٠) کیلو ګرامه مالګه، (٢٤٦) کیلو ګرامه لوبیا، (٣٠١٠) کیلو ګرامه نوې البسه، (٤٧٧٩) کیلو ګرامه ملایي، (٥٤٩٣) کیلو ګرامه رُب، (٥٦١٤) کیلو ګرامه وریجي، (٣١٠) کیلو ګرامه هګۍ، (٢٢٥٠) کیلو ګرامه غوړي، (٣٠٠) کیلو ګرامه نخي تار، (٢١٠) کیلو ګرامه مکروني، (٨٠) کیلو ګرامه صابون، (٤٠) کیلو ګرامه شامپو، (٢٨) کیلو ګرامه زراعتي درمل، (٣٠) دانې د کرکټ بېټونه او (٧) آسونه شامل دي. همداشان د تورخم ګمرک کارکوونکو (١٧٩٠) کیلو ګرامه رخت باب، (٢١٠) کیلو ګرامه لیلامي جامې، (٥٠) کیلو ګرامه مالوچ، (٢٠٠٠) کیلو ګرامه د ګاز ماشین پرزه جات، (١٥٦) دانې ګازي بخارۍ، (٣٢٥) کیلو ګرامه ګوړه، (٢٠٦) کیلو ګرامه انساني درمل، (٤٥) کیلو ګرامه یوناني درمل، (٢٤٦) کیلو ګرامه د درملو بار جامه او (١٦٥) کیلو ګرامه بوره، چې د راستنېدونکو ګډوالو په بار وړونکو موټرونو کې ځای پر ځای سوي ول او غوښتل ئې، په قاچاقي ډول ئې افغانستان ته راوړي کشف او نیولي دي. نیول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو له پاره اړوندو ګمرکونو ته سپارل سوي دي.

# پیشرفت و تحول اقتصادی در طول حاکمیت امارت اسلامی افغانستان



جمیل نوری
کارشناس تحقیق های اجتماعی

مدیریت اوضاع اقتصادی افغانستان حوزه‌ای است که امارت اسلامی در سه سال گذشته حرفی برای گفتن داشته و برای جلوگیری از فروپاشی اقتصاد افغانستان اقدامات موثر و جدی روی دست گرفته است. هرچند حمایت خارجی در جلوگیری از فروپاشی کامل نظام اقتصادی افغانستان مؤثر بوده اما امارت اسلامی بلافاصله پس از به دست گرفتن قدرت در این کشور، فشارها و نظارت‌های جدی از قبیل وضع محدودیت بر برداشت پول از بانک‌های کشور، جلوگیری از خروج ارز از کشور وغیره موارد، امارت کنترول جدی بازار مالی کشور را به دست گرفت و در نتیجه نظام به رشد صادرات و افزایش استفاده از منابع عایداتی کشور مانند معادن افغانستان روی آورد. این اقدامات امارت اسلامی سبب شده است که بسیاری از بخش‌های اقتصاد شاهد تحولات مثبت باشند و به این ترتیب ارزش پول افغانی را در سطح مطلوب حفظ نمایند. براساس آماری که از سوی امارت اسلامی ارائه شده، صادرات، تولید ناخالص داخلی و درآمد سرانه شهروندان افغانستان در حال رشد بوده است. امارت اسلامی در اضافه تر از سه سال حاکمیت خود، صادرات افغانستان را از حدود (۸۰۰) میلیون دالر نزدیک به دو میلیارد دالر افزایش داده است و حکومت مدعی است که درآمد سرانه شهروندان افغانستان در سال (۱۴۰۲) به (۴۹۳) دالر رسیده است و این رقم در آخرین سال نظام قبلی بر اساس آمارها، (۵۱۲) دالر اعلام شده بود و در سال نخست حاکمیت امارت اسلامی به پایین‌تر از (۳۳۰) دالر سقوط کرده بود. کارشناسان بر ایجاد زمینه های بیشتر برای سرمایه گذاری در کشور تأکید می کنند تا ثبات دوامدار در اقتصاد افغانستان تامین شود.

**به طور کلی آمار موجود در نزد اداره ملی احصائیه و معلومات امارت اسلامی، مهمترین شاخص‌های اقتصادی کشور را در سال (۱۴۰۲) چنین بیان می‌نمایند:**

- تولید ناخالص داخلی حقیقی کشور در سال (۱۴۰۲) در حدود (۷) میلیارد دالر بوده که در مقایسه با سال قبلی (۲.۷) در صد رشد را نشان می‌دهد و این رشد ناشی از بیش‌ترین رشد در سکتور کشاورزی می‌باشد.
- درآمد سرانه‌ی شهروندان افغانستان در سال (۱۴۰۲) حدود (۴۹۳) دالر است که نسبت به سال پیشین (۷۰) دالر افزایش را نشان می‌دهد.
- شاخص قیمت مصرف‌کننده یا در صدی تورم عمومی (۷.۷) در صد کاهش را در سطح عمومی قیمت‌ها نشان می‌دهد.
- قیمت تبادله‌ی دالر در برابر افغانی به طور اوسط از (۸۸.۵) افغانی در سال (۱۴۰۱) به (۷۸.۸) افغانی در (۱۴۰۲) کاهش یافته است.
- در سال (۱۴۰۲) ارزش صادرات اجناس (۱،۸) میلیارد دالر بوده که در مقایسه با سال (۱۴۰۱) حدود (۳.۲) در صد کاهش را نشان می‌دهد و این کاهش ناشی از کاهش در صادرات مواد معدنی به ویژه زغال‌سنگ است.
- ارزش واردات افغانستان در سال (۱۴۰۲) به حدود (۸.۵) میلیارد دالر بوده که در مقایسه با سال (۱۴۰۱) حدود (۲۲.۴) در صد افزایش را نشان می‌دهد.
- در سال (۱۴۰۱) ارزش صادرات کالاها (۱،۸) میلیارد دالر بود که در مقایسه با سال (۱۴۰۲) در حدود (۳،۲) فیصد کاهش یافته است و این کاهش به علت کاهش در صادرات مواد معدنی، به ویژه زغال سنگ است.
- ارزش واردات افغانستان در سال (۱۴۰۲) حدود (۸،۵) میلیارد د دالر بود که در مقایسه با سال (۱۴۰۱) چیز کم و زیاد (۲۲،۴) در صد افزایش را نشان می دهد.

منابع عایداتی افغانستان و حمایت های خارجی، از مهم‌ترین عوامل مدیریت بحران اقتصادی در کشور بوده است که در ذیل به این موارد همچنان پرداخته میشود:

**تمرکز روی منابع عایداتی داخلی:** امارت اسلامی برای تأمین بودجه‌ی افغانستان، تمرکز ویژه به منابع عایداتی چون معادن کشور داشته که بخش عمده‌ی بودجه‌ی این حکومت از همین راه تأمین شده است.



**معادن زغال سنگ:** زغال سنگ و درآمد ناشی از صادرات این معدن مهم‌ترین عنصر بودجه کشور است و امارت اسلامی عواید صادرات زغال سنگ را در مقایسه با دوره نظام پیشین (۱۰) برابر افزایش داده است.

**نفت:** نفت دومین معدن سودآور برای امارت اسلامی بوده است. براساس معلوماتی که از سوی امارت اسلامی داده شده است، تنها از معادن نفتی قشقری در سرپل روزانه حدود (٦٠٠) هزار افغانی درآمد داشته است. امارت اسلامی افغانستان در سال گذشته نیز معادن نفتی دریای آمو در ولایت‌های جوزجان و فاریاب را بر اساس یک قرارداد (۲۵) ساله به یک شرکت چینی واگذار نموده است.

**سایر معادن:** علاوه بر این امارت اسلامی، شماری زیاد از معادن را در مقیاس کوچک، متوسط و بزرگ کشور را به منظور استخراج به شرکت های قراردادی سپرده است که یکی از مهم‌ترین قراردادهای امارت اسلامی در این بخش، قرارداد هفت معدن بزرگ به ارزش (٦.۵) میلیارد دالر که شامل معدن طلای تخار، معدن مس عینک لوگر، معدن آهن غوریان در هرات و معدن سرب غور می‌شود. قابل یادآوریست که کشورها به خصوص کشورهای منطقه بر اساس منافع اقتصادی خود نه تنها اجازه نداده اند که نبود یک دولت به رسمیت شناخته شده در افغانستان در حدود اضافه تر از سه سال گذشته مانع تعاملات تجاری و اقتصادی با افغانستان شود؛ آنان در راستای تقویت این روند

اوونیزه

با نظام کنونی افغانستان نیز همکاری کرده‌اند و این رویکرد روند تجارت و ترانزیت افغانستان را بهبود بخشیده است.

**پروژه‌های انکشافی:** هرچند امارت اسلامی در سال (۱۴۰۱) مبلغ (۲۷.۹) میلیارد افغانی را برای بخش خصوصی انکشافی اختصاص داده بود که کاهش بی‌سابقه در بودجه انکشافی افغانستان در سال‌های اخیر بود؛ اما در زمان حاکمیت امارت اسلامی، صدها پروژه انکشافی در افغانستان که توسط نهادهای بین‌المللی تمویل می‌شد، به شکل نیمه کاره متوقف شد. اما امارت اسلامی برخی از پروژه های انکشافی مانند کانال قوش تیپه را از عواید داخلی آغاز کرده است و به همین ترتیب درآمد ناشی از استخراج معادن برای تطبیق برخی از پروژه های انکشافی در کشور اختصاص داده شده است. امارت اسلامی با جمع‌آوری وجوه مالی از مردم و رهگذران نیز تلاش کرده تا برخی از پروژه‌های دیگر همچون بازسازی شاهراه سالنگ را راه اندازی و تطبیق کند.

**چالش های حل نشده:**

پس از بازگشت امارت اسلامی در افغانستان، تحریم‌ها بر تمام بانک‌های افغانستان وضع شد و انتقال مبالغ زیاد پول از مجراهای رسمی بانکی ناممکن شد. همچنان محدودیت‌های برای برداشت سپرده‌ها از بانک‌های افغانستان وجود دارد. بانک‌های افغانستان تاکنون اعتماد کامل شهروندان را به خود جلب نکرده و افغانستان به بزرگ‌ترین سیستم مالی جهان مانند سیستم سویفت دسترسی کامل ندارد که تاثیرات منفی بر اقتصاد افغانستان داشته است. قابل یادآوریست که افغانستان دست‌کم در یک قرن گذشته برای تامین بودجه‌اش به کمک‌های خارجی وابسته بوده است در حالیکه اکنون بودجه از منابع داخلی تهیه می شود.

# اعلانات داوطلبی

## اعلان داوطلبی

قرار است مستوفیت هرات ۲ در بند دوکان واقع بازار تورغندی ملکیت مقام محترم مستوفیت ولایت هرات را بر اساس نرخ کرایه سابقه از طریق داوطلبی و آفرگشایی مطابق به طرزالعمل قرارداد های املاک امارتی به اجاره دهد.

۱- دوکان نمبر ۱ موازی ۲۸,۷ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (٥٤٠٠) افغانی. با کوردینات ٦۲۲۸٤۸٥-x و ۳٥۲٤۳۹٥-y

۲- دوکان نمبر ۲ موازی ۲۸,۷ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (٥٤٥٠) افغانی. با کوردینات ٦۲۲۸٤۸٥-x و ۳٥۲٤۳۹٥-y

بناً اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن دوکان ها فوق باشند درخواست های خویش را برای مدت (١٤) یوم اعتبار از تاریخ ۱۲ قوس سال ١٤٠٤ الی ۲٥ قوس سال ١٤٠٤ به مدیریت عمومی املاک امارتی مستوفیت ولایت هرات سپرده، شرطنامه را مطالعه، تامینات نقداً اخذ میگردد. تاریخ مجلس داوطلبی و آفر گشایی ۲٦ قوس سال ١٤٠٤ به ساعت ۲ بعد از ظهر برگزار میگردد

آدرس : مستوفیت ولایت هرات مدیریت عمومی املاک امارتی

شماره تماس: ۰۷۹٤۳۳۸۹۸۹

## اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به اطلاع عموم رسانیده میشود، اینکه وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان در نظر دارد، تدارک وسایل تکنالوژی ریاست عمومی عواید دارای نمبرتشخیصیه MOF/١٤٠٤/ ۲٥٥١-NCB/G را با شرکت زنبون تکنالوژی به قیمت مجموعی ۳۸٦١٤٠٠ سه میلیون وهشت صدوشصت ویک هزار وچهار صد افغانی عقد قرارداد نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض درزمینه داشته باشند میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی ۷ روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان واقع پشتونستان وات -کابل ارائه نماید این اطلاعیه به معنی عقدقرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

## اعلان داوطلبی

ریاست عمومی املاك امارتی وزارت مالیه دوکاکین ذیل را به شکل آفر سربسته طور جداگانه به داوطلبی می سپارد.

١- یك باب دوکان نمبر A٤٤-٤٥ به مساحت ۳٦ متر مربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه ٥ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۳۷۳۰۰ ) افغانی، مدت سال موقت؛

۲- دوکان نمبر D١٠-١١-١٢ به مساحت ٦۷,٥ متر مربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه ٥ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ٦٤٤٠ ) افغانی، مدت سال طور موقت؛

۳- دوکان نمبر B٤٠ به مساحت ١٦٠ متر مربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه ٥ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ١٥۲٦٤) افغانی، مدت سال طور موقت؛

٤- دوکان نمبر B٥٠ به مساحت ١۸ متر مربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه ٥ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۲٥۳٠٠ ) افغانی، مدت سال طور موقت.

کوردینات (جی پی اس نمبر) ٦۹,١١۷٤٦ ۳٤,٥١٥۲۷۲

٥- یك باب دوکان نمبر ٦ و ۷ به مساحت ۸,١ متر مربع واقع منزل اول تعمیر ١٤ منزله سینما پامیر به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۲۸٠٠٠ ) افغانی مدت ۲ سال؛

٦- یك باب غرفه نمبر ۲۲ به مساحت ٥,٠٦ متر مربع واقع منزل اول تعمیر ١٤ منزله سینما پامیر مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ٦۳٠٠٠ افغانی، مدت ۲ سال؛

کوردینات (جی پی اس نمبر) ٦۹,١۷۲١۹ ۳٤,٥١۳٤۲

۷- دوکان نمبر ۸۹ به مساحت ١١,٥۲ متر مربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ١٥۹۲٥) افغانی مدت ١ سال.

کوردینات (جی پی اس نمبر) ٦۹,١۷۷۲٤ ۳٤,٥١۷٤١

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن دوکاکین فوق باشند میتوانند درخواستهای شان را از تاریخ ١١ قوس ١٤٠٤ الی ۲٤ قوس ١٤٠٤ به مدت (١٤) روز به ریاست عمومی املاك امارتی واقع منزل چهارم تعمیر ١٤ منزله سینمای پامیر تسلیم نموده و شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس : سینما پامیر تعمیر ١٤ منزله، منزل ٥ مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز، شماره های تماس ( ٠۲٠۲۹۲٤٦۲٤-٠۲٠۲۹۲٤٦٠۷ )، مجلس داوطلبی بتاریخ ۲٥ قوس ساعت (١٠:٠٠) قبل از ظهر برگزار میگردد.

## اعلان داوطلبی

ریاست عمومی املاك امارتی وزارت مالیه جایدادهای امارتی ذیل را به شکل آفر سر بسته از طریق پروسه داوطلبی به اجاره و کرایه می دهد.

موازی (١١۹٠٠) متر مربع زمین واقع ساحه شیر خان کخ ولسوالی سروبی ولایت کابل دارای کور دینات طول البلد ٦۹,٦٦٦٦٠ و غرض البلد ۳٤,٦٠۳۸٦ است که کرایه سالانه آن به مبلغ ۳٥۷٠ (سه هزار و پنج صد و هفتاد) افغانی می باشد. قابل یاد آوری میباشد، اینکه در مکتوب قبلی حق الاجاره جایداد فوق الذکر فی جریب ۳۷٥٠ (سه هزار و هفت صد و پنجاه) افغانی تحریر گردیده درحالیکه فی جریب حق الاجاره سالانه آن مبلغ (٦٠٠) افغانی میباشد.

نشر مطالب فوق الی ١ جدی ١٤٠٤ به مدت (۲١) یوم مدار اعتبار است.

## اعلان داوطلبی

ریاست عمومی املاك امارتی وزارت مالیه دوکاکین ظاهر شاهی مارکیت مندوی کابل مربوط ناحیه اول شهر کابل را به طور جداگانه به شکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی می سپارد، مدت سال (موقت).

١- یکباب دوکان نمبر ۹ به مساحت ۷,٠۲ متر مربع واقع ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۳٥۳۲٥) افغانی؛

۲- یکباب دوکان نمبر ١۳٦ به مساحت ١٤,٦ متر مربع واقع ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۸۳۲٤٠) افغانی؛

۳- یکباب دوکان نمبر ۲١ به مساحت ۷,۳۷ متر مربع واقع ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۲۳۷٠۳) افغانی؛

٤- یکباب دوکان نمبر ١ به مساحت ٦,٤۸ متر مربع واقع ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٤٦۳۳۳) افغانی.

کوردینات (جی پی اس نمبر ) ٦۹,١۷۷٦ ۳٤,٥١۷١

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن دوکانهای فوق باشند میتوانند درخواست های شان را از تاریخ ١١ قوس ١٤٠٤ الی ١۷قوس ١٤٠٤ به مدت (۷) روز به ریاست عمومی املاك امارتی واقع منزل چهارم تعمیر ١٤ منزله سینمای پامیر تسلیم نموده و شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس: سینما پامیر تعمیر ١٤ منزله، منزل ٥ مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز، شماره تماس:٠۲٠۲۹۲٤٦٠۷، مجلس داوطلبی بتاریخ ١۸ قوس ١٤٠٤ ساعت (١٠:٠٠) قبل از ظهر برگزار میگردد.

# شتمنۍ SHTAMANI
اوونیزه

زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی

د امتیاز خښتن: د ماليې وزارت
مسئول مدير: عبدالقيوم نصير
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ویبسایټ: mof.gov.af
ایکسپانه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمیره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)






## Islam Qala Border Customs Destroys Approximately 100 tons of Smuggled, Substandard Fuel



Approximately 100 tons of smuggled and substandard gasoline, and diesel fuel were destroyed at the Islam Qala border customs in Herat province in the presence of representatives of the relevant competent authorities in accordance with a court order. The amount of fuel, which was smuggled into Afghanistan in commercial vehicles at different times by smugglers, was seized by customs officials and after laboratory test and analysis, a decision was made to destroy the substandard fuel. It is worth noting that all commercial goods are carefully checked at Afghanistan customs, and no one is allowed to import or export substandard and prohibited goods.

## 3 Afghan Ports Return 16 Tankers of Substandard Petroleum Products in 1M



The Directorate of Petroleum Products Quality and Supervision that determines the quality of petroleum products imported into Afghanistan according to set standards, rejected 16 tankers of substandard petroleum products, weighing a total of 480 tons from numerous customs in the month of Aqrab 1404 (Afghan calendar), the date coincides with 23/ Oct – 21/ Nov/ 2025. The rejected petroleum products that are three tankers of diesel, four tankers of LPG - liquefied petroleum gas and one tanker of other type of lubricants from Nimroz Port; four tankers of diesel from Hairatan Port and four tankers of petrol from Sherkhan Port. Notably, MoF has appointed professional and technical teams at relevant customs offices to determine the quality of petroleum products imported into Afghanistan, established standard laboratories, and used advanced diagnostic equipment to facilitate the import of high-quality and standardized petroleum products into the country, and strictly prevent the import of substandard petroleum products.




## اُزبکستان او افغانستان د فیلانو په بیه غټ سوداګریز تړونونه لاسلیک کړل




د ټرېنډ ـ trend په نوم اذري خبري اژانس افغانستان ته د (۱۰۰) تنو په شمېر اُزبک سوداګریزو استازو د پلاوي د کار سفر په تړاو راپور لیکلی دئ. وايي د اُزبکستان د سوداګرۍ او صنايعو خوني له خوا څخه د نومبر (۱۷ ــ ۲۳) نېټې پورې یو پلاوی افغانستان ته لېږلی وو؛ ترڅو د افغان ـ اُوزبک سوداګرۍ ته وده ورکړي. يادي رسنۍ د نومبر پر (۱۸.) نېټه په کابل کې د "امام ابو حنیفه - څلورم ملي او نړیوال سوداګریز نندارتون" یادونه هم کوي. وړپسې زیاتوي، چې د اُزبکستان د سوداګرۍ او صنايعو خوني او د افغانستان د سوداګرۍ او پانګوني خوني د همکارۍ يو داسي تفاهم لاسلیک کړ، چې په دواړو هیوادونو کې د "سوداګریزو خونو" د جوړولو او د دې خونو د استازو دفترونو د پرانیستلو له پاره زمینه برابروي. ټرېنډ د سوداګریزو معاملاتو په هکله لیکي، چې له افغانستان سره د اُزبکستان سوداګریزي معاملې د (جنوري ــ جولای/ ۲۰۲۵)ز په جریان کې (۸٦۲,۲) میلیونو ډالرو ته رسېدلي دي، چې د پروسږکال (۲۰۲٤)ز د ورته مودې په پرتله د (۵۷۱) میلیونو ډالرو په ارزښت ٪(۵۱) زیاتوالی ښيي او د وړم کال (۲۰۲۳)ز په پرتله تقریباً دوه برابره یا (٤۷۰) میلیونه ډالره کېږي. تر دې وروسته د افغانستان له بهرنیو پانګوالو څخه د چین، سعودي عربستان، پاکستان او متحده عربي اماراتو نوم اخلي، چې وايي زیاتره ئې پر طبيعي سرچینو؛ لکه تېلو او ګازو تمرکز کوي او د افغانستان نیږدې سوداګریز ملګري دي.


### د شکایتونو اورېدلو آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هیوادوال، چې د ماليې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندي ادرسونو له لاري شریک کړي.

ټیلیفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ ( ۹۳+ )

برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af



### د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کې دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومې ستونزې حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندي شمېره اړیکه ونیسئ!
اړیکه: ۲۲۱

### ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه همیشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!

تماس: ۲۲۱



شتمني اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د ماليې وزارت له اصولو سره سمي وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو څخه هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک tamas@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.